# د ویاړلو دی

د کانکور ازموینه یوه اساسي او اړینه پروسه او لوړو زده کړو ته د رسیدو یواځینی لاره ده ا و د دولسم ټولګي څخه فارغ زده کوونکي کولای شي چې د کانکور په ازموینه کې د بریا وروسته خپل د خوښې پوهنځي ته لار پیدا کړي.

د کانکور ازموینې په اړه مالومات ترلاسه کول اود یادې پروسې په کړنلارې پوهېدل خورا اړین دي ، که چېرې غواړئ چې د کانکور په ازموینه کې ګډون وکړی نو لومړی د نوموړې ازموینې په اړه کره هر اړخیز مالومات تر لاسه کړئ او د هغه وروسته په یادې پروسه کې ګډون وکړئ.

داچې ډیری زده کوونکي د کانکور د ازموینې په اړه بشپړ او کره مالومات نه لري او په یاده ازموینه کې د ګډون په کړنلارې د زیاتو ستونزو سره مخ وي نو ددغو ستونزو د حل په موخه او د یو بریالي کانکور ازموینې ورکولو لپاره قدرمن استاد دلاور رضا خپل پیاوړی استعداد په کار واچوه او د کانکور مینه والوته یې د (کامیاب کانکور) تر سر لیک لاندې یو ګټور کتاب د چاپ په ګاڼه سمبال کړ.

د یادونې ده چې د (کامیاب کانکور) کتاب د کانکور د ازموینې په اړه هر اړخیز او ګټور مالومات او لارښوونې لري او ددې کتاب په مطالعې سره کېدلی شي تر ډېره حده د زده کوونکو ستونزې د کانکور د ازموینې پروسې سره هوارې شي.



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کامیاب کانکور

دروند استاد دلاور رضا یو هڅاند ، خواري کښ او خورا ښه استعداد لرونکي شخصیت دی او تل کوښښ کوي چې علمي کتهور اثار ولیکي او د همدې لارې خپلو هیوادوالوته د خدمت مصدر وګرځي او زه ورته ددغه نوي اثر مبارکي وایم او په راتلونکي کې د نوموړي د لازیاتو اثارو په هیله، قلم یې په لیکلو روان اوسه.

په درنښت

نیک محمد وحدت

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لاس که په وطـن کې د تعمیر کولای نـشی

## واړه لـه تخریـــــــــــبه داخبره ستا د وس ده

د څو کلن ناورین څخه د افغان ژوند لا څه چې هیڅ یو څیز بې درد لیدلو پاتی نه شو ، عامه ذهنیت وپاشل شو، خو بیا هم د یو څه نسبی سوکالۍ په راتلو سره د ژوند د هوساینې یو اندازه طمعه پیدا شوه .که مونږ د خپلې ټولنې د وګړو ژوند د نورو ممالکو د وګړو له ژوند سره پرتله کړو نو په زغرده سره ویلې شو چې افغانې ټولنې د خپل راتلونکې نسل لپاره هیڅ نه دی کړی جې ستر علت یې د څو لسیزو بدبختیو پایله ده ، د نړۍ د پرمختللیو هیوادونو په مقایسه زمونږ ښوونه او روزنه په نشتون حساب ده ، په ستره کچه په خپله مورنې ژبه کې د علمې او مسلکې کتابونه نشتون یوه بله غټه ستونزه ده ،که څه هم په تیرو څو کلونو کې زیات شمیر کتابونه چاپ شول ، ولې تر یو حده غیرمسلکې اشخاصو لیکلې چې تر کټې یې ټولنې او ژبې ته زیان ده . داچې موضوع بلې خواته لاړه نه شی نو خپلې اصلی موضوع ته راځم

هغه څه ښه وایې : طبیب هغه طبیب ده چې رنز (مرض) پرې تیر شوی شوي وي نو د څو کالو تدریس او د شاګردانو سره نږدې پاتې کیدل اوله شاکردانو څخه د کانکور په آزموینه کې د کامیابې رازونه پوښتل او همدارنکه د بې نتیجې شویو شاکردانو څخه ددوې د بې نتیجه کیدو عوامل پوښتلو په نتیجه کې په دې وتوانیدم چې خپلو ځوانانو ته د کانکور آزموینې په اړه یو څه معلومات راټول کړم .

د کانکور ازموینه د لوړو زدکړو وزارت له لوري اخیستل کیږي د دولسم تولګي فارغانو لپاره یو اساسي ازموینه ده. د بریالیتوب په صورت کې لوړو زدکړو ته لاره پیدا کوي ، دا چې د کانکور آزموینه تر ډیره تخنیکې اړخونه لري نو په دې ټولکه کې د کانکور آزموینې تخنیکې مسایلو ، مطالعه کولو په چارې ، د آزموینې پر وخت ویره او منفې اغېزې له منځه وړلو او ډیري بهترینې لارې نورو مسایلو باندي بحث شوی.

زما ددې ستري بریا ستر همکار استاد نیک محمد وحدت څخه به د زړه له تله مننه وکړم چې په ډیرو تنګو شیبو کې یې په دې ټولګه کتنه وکړه .پر ځان یې حق کنم چې د ښاعلی ایملیار ساجد څخه مننه وکړم چې په ډیر روښانه تندې یې ډیزاین چاری یې پر غاړه واخیستې.

له تاسو څخه مې هیله همدا ده چې ددې کتاب د لا نور ښه والي لپاره پر لاندې شمیره له ما سره اړیکه کې شي

دلاور رضا معروف خیل

0786778600

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کانکور ازموینه

کانکور ازموینه چې د لوړو زدکړو وزارت له لوري اخیستل کیږي د دولسم ټولګي فارغانو لپاره یو اساسي ازموینه ده. د بریالیتوب په صورت کې لوړو زدکړو ته لاره پیدا کوي. دکانکور په ازموینه کې د ګډون لپاره ځانګړې فورمې د لیسو له لورې ورکول کېږي ، د نوم لیکنې فورم باید وروسته له ډکیدو د ګډون کوونکې له خوا لاسلیک او د اړوند لیسې اداره یې تایید کړې ، وروسته له هغې بیا د پوهنې وزارت اړونده څانګو په تصدیق سره لست وار لیست له مخې د لوړو زده کړو وزارت د ازموینو ریاست ته سپارل کېږي ، باید د نوم لیکنې فورم کې له ډېر دقت څخه کار واخیستل شي .
هغه څوک نه شي کولې چې د پوهنې وزارت له خوا له نوم لیکنې او د ټولو اړونده مراحلو له بشپړولو پرته په کانکور آزموینه کې ګډون وکړي.
د کانکور پروسه د دولسم ټولګیو فارغانو لپاره یوه بنسټیزه مثبت تغیر راړونکې پروسه ده. همدې پروسې له لارې د دولسم ټولګي فارغانو د ژوند لوری او تحصیلي رشته(څانګه) ټاکل کېږي.
پدې ورستیو کلونو کې دلوړو زده کړو وزارت د کړنلارې له مخې د دولسم ټولګي فارغان یوازې دوه ځلې کولی شي چې د کانکور په ازموینه کې ګډون وکړي. دا چې ډېرى ځوانان لوړو زده کړو ته لاره نشي موندلای نو ډېرى دلایل شته ، یو له دغو اساسي دلایلو څخه کانکور ورکونکوو کافي مطالعه نه درلودل او د کارنکور په عملي پروسه نا خبري ستره ستونزه ده.
که څوک غواړي چې سلو په سلو د کانکور په ازموینه کې بریالی شي باید په عمومي ډول د اووم ټولګي څخه تر دولسم ټولګي پورې په ټولو مضامینو په پوره توګه حاکمیت ولري . ددې تر څنګ باید د کانکور تخنیکي پروسې سره عملي بلتیا ولري. تاسو به ډ یر داسې فارغان لیدلي وي، چې ډېره وړتیا به یې لرله خو بیا به هم د کانکور په ازموینه کې بې نتیجې شوى وي دلیل یې کیداشي همدا وي چې دوى به حتمي د کانکور د تخنیکي پروسې سره بلتیا نه لره. یا به مو ډېر داسې فارغان لیدلي وي چې دومره خاصه وړتیا به نه لري خو بیا هم د کانکور په ازموینه کې دخپلې خوښې رشتې ته بریالي شوي دي نو دبریالیتوب راز یې شاید چې ۹۰ فیصده به د کانکور عملي پروسې سره بلتیا وي. نو پس په لنډ ډول ویلای شو چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کانکور په تخنیکي او عملي پروسه حاکمیت + د اووم ټولګي څخه تر دولسم ټولګي پر مضامینو حاکمیت = بــریالی کـــــــــانکور**

ځیرکتیا : د لوړو زده کړو په موسسو ( پوهنتونو) کې د شاملیدو د تصویب شوې لایحې د څلورڅلوېښتمې مادې په شپږم بندکې راغلي :(د کانکور هغه ګډون کوونکی ، چې په یوه کال کې له یوه وار څخه په زیاتو آزموینو کې ګډون وکړي دهغه کال آزموینه یې باطله او د راتلونکي کال د آزموینې چانس څخه هم بې برخې کیږي)

**د کانکور په ازموینه کې د بې نتیجه کیدو دلایل**

په کا نکور ازموینه کې د بې نتیجه شویو شاکردانو او د کانکور ماهرینو څخه د هغوی دبې نتیجه کیدو دلایل پوښتل شوي چې مهم یې په لاندې ډول دي .

1) پوره مطا لعي نه کول .
2) دا طمعه درلودل چې کانکور یو چانس دی .
3) د خپلې سویې څخه لوړ انتخاب.
4) نقل کول( د موبایل ،مسیج، دبل فورم ځوابونه رسول)

**ځیرکتیا** :. د موبایل له لارې اکثره مسیجونه غلط ثابت شوي دي او غلط دي. باید هیڅ چاته پردې اساس پیسې ورنه کړل شي چې شاید دا به په کانکور کې کامیاب شي،او نه باید خپل چانس بل چاته ورکړل شي بلکې د کانکور په اساسي اصل باور وکړل شي.هغه څه ښه وایي (چې په طمعه د سپورو شي نو پاتې په میرو شي).

5) د کانکور امادګی کې د ځینو مشخصو مضامینو مطالعه کول لکه ریاضي ،فزیک کیمیا پداسې حال کې چې د ټولو مضامینو نمرې یو شان دي.

**پاملرنه :** ډیر ضروري ده چې د کانکور امادګي د اووم ټولګي څخه تر دولسم ټولګي پورې ټول مضامین مطالعه شي.

6) د کانکور په شپه ډیره مطالعه کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پاملرنه:** ډیره لویه ستونزه چې دکانکوردازموینې پرمهال پیدا کیږي هغه ذهني ستړیا ده چې باید د کانکور په شپو او ورځو کې پر ذهن هیڅ قسم فشار را نه وړل شي .

7) د کانکور پر عملي (تخنیکي ) پروسه نا خبري .

**ځیرکتیا:** په کانکور کې ډیره مهمه او اساسي برخه د کانکور عملي پروسه ده کانکور ورکونکی باید مخکې له مخکې د کانکور په عملي پروسه خبر وي او په یاده برخه کې ځانګړی تمرین ولري.

**د کانکور په ازموینه کې د بریالیتوب رازونه**

هوښیاران څه ښه وایي (په سوال ځان پوهول د سوال نیمایي ځواب دی).

د کانکور په ازموینه کی د بریالیتوب چانس یواځې په زیاتې مطالعې او درس ویلو کې هم نه دی؛ ددې ترڅنګ سوال ته په سمه توګه کتنه ، او د سوال په ظاهري بڼه دوګه کیږدو څخه ځان ساتنه ضروري ده.

په کانکور ازموینه کې د بریالي شویوشاګردانو او د کانکور ماهرینو څخه د هغوی د بریالیتوب ځانګړي رازونو په هکله پوښتل شوي دي، چې هغوی د بریالیتوب لاملونو ته په لاندې ډول اشاره کړې ده .

1) داووم ټولګي څخه تر دولسم ټولګي پورې د ټولو کتابونو په پوره توګه مطالعه کول ، ځکه د کانکور په آزموینه کې ټول مضامین یو قسم نمرې لري.

2) د کانکور پر اصل تکیه کول، نه په چانس.

3) د کانکور امادګي په وخت تل په دې فکر کې اوسئ چې سبا مو د کانکور ازموینه ده.

4) عمومي معلوماتو لپاره باید دقیق مسلکي درسي کتابونه مطالعه شي.

**ځیرکتیا:**

لومړی - د کتاب په مطالعه او اخستلو کې باید ډیر دقیق ووسي، د کتاب مؤلف د کتاب منځپانګه د کتاب مأخذونه وکتل شي او په ظاهري بڼه یې هیڅکله مه دوګه کیږئ .لومړی باید د مؤلف په باره کې معلومات تر لاسه کړئ چې مسلکي دی او که نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهم – په ښونیزو مرکزونو کې باید مسلکي استادانو څخه درسونه وویل شي او د هغوی څخه ځانګړي میتودونه یاد کړی شي.

5) د کانکور د ورکولو د ورځې څخه یوه ورځ مخکې باید د کانکور ځای ته ولاړ شئ خپل د کانکور ځای وګورئ.

6) د کانکور په شپه ذهني فشار څخه ځان وژغورئ، استراحت وکړئ او د هر قسم اندیښنو او تشویشونو څخه ځان وساتئ.

7) د ځان سره قوي تصمیم و نیسئ ، که د الله (ج) رضا وي بریالی به شم.

8) د کانکور د ورځې څخه مخکې څو ځلې باید دکانکور په عملي پروسه له خپلو ملګرو سره په ګډه عملي کار وکړئ.

9) دا چې د کانکور ازمویني ID کارډ تر څنګ د پوهنځیو د کوډونو او د پوهنځیو د ګنجایش (پذیرش) معلوماتي ورقه هم درکول کیږي.باید په دقت سره وکتل شي. د پوهنځیو کنجایش (پذیرش) ته ښه پام وشي. کومو پوهنځیو ته چې زیات شاکردان جذبوي باید همغه پوهنځي انتخاب شي او کوډ یې یاد کړی شي.

10) د ID نمبر،فارم نمبر، د پوهنځیو کوډونو او د صحیح جز په تورولو کې باید ډیره هڅه وشي.

11) ځواب پاڼه باید چټله او قات نه شي ځکه نو ستاسې ځواب پاڼه د کمپیوتری سیستم (ORM) ځانګړې ماشین یې نه شي کتلې شي.

12) نقل او نورو معاملو څخه ځان وژغورئ او نه پرې باور وکړئ ځکه چانس موله لاسه ورکوئ.

13) د سوال په ظاهري بڼه مه دوکه کیږئ په غور سره یې وکورئ او بیا یې انتخاب کړئ.

15) هره پوښتنه یو سم ځواب لري ، د دوه او یا زیاتو دایرو په تورولو سره د همدي پوښتني نمرې له منځه ځي . کله چې کانکور ورکوونکي سل په سلو کې ډاډه شي چې پوښتنه سم ځواب نه لری نو هماغه پوښتنه دې د ځوابونو په پاڼه کې سپینه پریږدي.

14) تل باید د کانکور په ازموینه کې د سوال پر حل کولو کار ونه شي ، بلکې په سوال کې درکړل شوي جزونه وضع کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



15) د دقیق او باوري سوالونو دحل په پایله کې د پوهنځیو انتخاب وکړئ.

✓ **پاملرنه:** (هوښیاران وایي چې عقل له کم عقل څخه یادېږي).

نو بناً هغه ټکي چې کانکور ورکونکي یې له ناکامی سره مخ کړي ځان ورڅخه وژغورئ او تاسې یې مه تکراروئ.

**کانکور آزموینې ته څه ډول مطالعه وکړو!**

کتاب لوستل او له کتاب څخه اصل مفهوم اخیستل ځانته یو هنر دی ،کوم زده کوونکي چې په دې هنر ښه پوهیږي په ډیر لږ کوښښ او زیار سره په ازموینې کې ډیرې نمرې ترلاسه کوي .خو متاسفانه زمونږ په هیواد کې ډیری زده کوونکي دغه هنر څخه بې برخې دي ، د ډیرې مطالعی سره سره بیا هم په آزموینه کې ښې نمرې نه شي ترلاسه کولای.

دمطالعې هنر په اړه ځنې اساسي نقطې په لاندې ډول دي:

1) د مطالعې لپاره ښه او ارامه چاپیریال غوره کول.
2) د مطالعې پر مهال تازه او مناسبې هوا ته ډېره اړتیا ده تر څو دماغ ته په مناسبه اندازه اکسیجن غاز ورسیږي یا د مطالعې په جریان کې اوږدې اوږدې ساګانې اخلئ ، چې په دې سره مو دماغي فعالیت ډېرېږي
3) د مطالعې لپاره طبعي رڼا د مصنوعي رڼا په پرتله ډېره بهتره ده.
4) د مطالعې پر وخت پر چوکۍ کیناستل او د میز پر سر کتاب کینښودل بهتره طریقه ده.
5) د مطالعې لپاره ځانګړې خونه (کوټه ) ټاکل ضروري ده ، د مطالعې خونه کې باید یواځې مطالعه وشي او د کتابونو ښایسته الماری لرل.
6) خپل ستاینلیکونه ، سرټیفیکیټونه ، مډالونه هم د مطالعې په خونه کې په مخامخ دېوال وځړوئ ، په دې سره ستاسو پر ځان باور ډېریږي او لا ډیر هڅول کیږئ .
7) که وس لرئ د مطالعې په خونه کې د تازه ګلونو ، ښکلو منظرو تصویرونه وساتي ، ځکه د شنو او تازه شیانو په لیدلو سره ستاسې ذهن تازه کېږي او هم یو ډول سکون دربښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



8) د مطالعې پر مهال موبایل مه کاروئ ، تر څو ذهن مو بایل لوري ته میلان پیدا نه کړي او د مطالعې لپاره ځانګړی مهال وېش (تقسیم اوقات ) جوړ کړئ.

9) دمطالعې په وخت کې د اوبو یا چای په څښلو سره ذهني سترړیا رفع کېږي ، نو د مطالعې پر وخت اوبه یا چای ضرور دی.

**ځیرکتیا** : د هر مضمون د لوستلو څخه وړاندې پنځه دقیقې خپلې سترګې پټې کړئ ، چې تاسو به دا مضمون په مینه او شوق سره لولئ ، په پوره ډاډ او اسانئ سره به یې ولولئ ، تاسو ته به دا مضمون ډېر په زړه پورې وي او په سم ډول به یې یادوئ ، تصویر به یې درته ډېر روښان نیږدې او ستر کړي.

کوښښ وکړئ چې په ټوله شپه کې یوازې یو مضمون ونه لولئ ، بلکې له یوه څخه زیات مضامین ولولئ او د هر مضمون ترمنځ ۱۰ یا ۱۵ دقیقې تفریح وکړئ ، کله مو چې د یو فصل مطالعه پای ته ورسوله ، نو څو دقیقو کې ددغه فصل خلاصه (نچوړ) له ځان سره ولیکئ .

دفصل ستونزمن درسونه په بنده ساه کې ولولئ ، ژوره ساه واخلئ ، بیا ساه بنده کړئ او په همدې وخت کې په بنده ساه ستونزمن مواد لولئ ،بیا ساه ازاده کړئ او همدغه طریقه پنځه یا شپږ ځلې ترسره کړی ،د نوي درس یادولو ترټولو بهتره وخت سهار لمونځ څخه وروسته او د درسونو د تکرار لپاره غوره وخت د شپې د خوب څخه یو ساعت وړاندې غوره دی. په دغو وختونو کې ذهن په اسانې سره مواد قبلوي.که مو توان درلود نو ښه خبره داده چې د هرې موضوع په باره کې ډېر کتابونه وګورئ.

- ✓ **پاملرنه** :- په لاندې حالاتو کې هیڅکله هم مطالعه مه کوئ.

I. د ډېرې لوږې په حالت کې مطالعه مه کوئ.
II. کله چې ډېر خوب درځي.
III. د سردردۍ په حالت کې.
IV. د ډوډۍ په حالت کې.
V. دیومضمون د مطالعې څخه وروسته سمدستي د بل مضمون مطالعه مه کوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له ازموینې ډار**:-وېره یوه مفني انګیزه ده ، چې هر زده کوونکی یې په ډیره یا لږه اندازه لري .
د وېرې له منځه وړلو لپاره ماهرینو ځیني ځانګړي تمرینونه رامنځته کړي دي ، چې ځیني ګټور یې په لاندې ډول دي.

A. د ازموینې د پیل کیدو څخه ۱۵ دقیقې وړاندې خپل لاسونه ومینځئ او که امکان لري نو اودس وکړئ چې په دې سره مو هم وېره ترډیره حده راکمیږي.
B. د ازموینې ځای ته ځان سره ژاولې یوسئ ، د امتحان د شروع کیدو څخه یو ساعت مخکې ژاولې وژویئ ، څیړنو په ډاګه کړې ده چې د امتحان په اولو شیبو کې وېره ( فشار ) زیات وي ، چې په تدریجي ډول سره کمیږي ، خو د ژاولو په ژولو سره نوموړی فشار په ډیره اندازه راکمېږي او له ازموینې وېره له منځه وړي .
C. د ازموینې څخه مخکې خپلې سترګې مو بندې کړئ ، بدن مو سست او لس اوږدې ساګانې واخلئ ، د ازموینې په اړه فکر وکړئ په خپل ذهن مو د ازموینې په اړه یو تصویر جوړ کړي ، همدلته پریکړه وکړئ چې که د الله (ج) رضا وي په دغه ازموینه کې به بریالی شم.

**د خوښې مضمون** : - تر ټولو د مخه هغه مضمون ولولئ ، چې ورسره مینه او لېوالتیا لرئ ، په دې سره به ستاسو د مطالعې پېل له خوښې او لېوالتیا سره مل وي او همداشان دا کار ستاسو د مطالعې جریان او دوام هم اسانوي او زړه تنګون درته نه پیداکوي.
**پاملرنه** : - هیڅکله هم باید په پرلپسې توګه مطالعه ونه شي ، د مطالعې په جریان کې ضرور لږه وقفه اخلئ ، په وقفه کې ارام کوئ ، تفریح کوئ ، د تفریح په وخت کې اوږدې ، اوږدې ساګانې اخلئ .

**د کانکور په آزموینه کې ګډون :**

۱-- د کانکور آزموینې په کارت کې د ګډون کوونکې نوم ، پلار نوم ، نیکه نوم او عکس څخه علاوه یوه شمیره د( ID نمبر) هم تر سترګو کیږي ، هر ګډون کوونکی باید دغه آی ډی نمبر په یاد ولری او له ځان سره یاد داشت کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ــــ هر ګډون کوونکی اړ دی ، چې د آزموینې کې له ځان سره تور توش او یا تور خودکار قلم ځان سره ولری تر څو د ځواب پاڼي به کارولو کې ورڅخه کار واخلي ، له پنسل څخه باید په ځواب پاڼه کې استفاده ونه شي .
۳ــــ آزموینې په ورځ کانکور ورکونکې باید له ځان سره خپله اصلي تذکره ، خپل د کانکور ورکولو اصلی کارت ( ID کارت) ولری.
۴ــــ هر کارکوونکو ورکوونکې باید خپل فارم نمبر ( هغه څلور رقمي شمیره چې د کتابچې پرمخ په یوه چوکاټ کې راغلې ) لومړی د ځوابونو په پاڼه کې په عدد ولیکې او بیا یې په ترتیب سره په هماغه استقامت لاندې دایرو کې هماغه خانه مکمله توره کړی.
۵ــــ آزموینې په پای کې د لسو دقیقو څخه تر پینځه لسو دقیقو پوری وخت د رشتو د ټاکلو لپاره درکول کیږې ، باید ډیر دقیق پکې ووسې ، مکمل پنځه واړه مختلف پوهنځي په ترتیب څخه انتخاب کړی . د پوهنځیو د کوډونو معلومات پاڼه څخه باید کوډونه مخکې ښه یاد او انتخاب کړی ، لمړي د ځواب پاڼي په ورقه کې د پوهنځیو کوډونه په عدد ولیکل شي او وروسته د هماغه په استقامت دې لاندې دایرې په پوره ډول توري شي .
پاملرنه: د پوهنځیو کوډونه ، فارم نمبر کوډ ، آی ډی نمبر ، ټول له کینې خوا څخه ښي خوا ته لیکل کیږي .

## پوهنتون ته بریالیتوب

کله چې نتیجه په ډاګه شوه نو د کامیابۍ په صورت کې پکارده چې کامیاب شوي پوهنځي ته نوم لیکنه(ثبت نام) وشي. د پوهنځي لپاره نوم لیکنه د پوهنتون د محصلانو امریت کې تر سره کیږي. چې ځانګړې فورمه ورکول کیږي د فورمې ډکولو څخه وروسته فورمه بیرته د محصلانو امریت ته سپارل کیږي. د یادونې ده چې د فورمې په ډکولو کې خپل مکمل شهرت ( پیژندکلوي ) ،فعلي او اصلي سکونت، ای ډي نمبر ، تذکرې نمبر ، کوم پوهنځي ته چې بریالی شوی یې د هغه نوم او د نمرو اندازه لیکل کیږي.

**پاملرنه:**

1- تر څو چې نوموړې فورمه ډکه نه شي نو په پوهنځي کې د کینا ستو حق نه لرې.

2- په پوهنځي کې د سجیل په نوم یو کتابچه درکول کیږی چې خپل لمړنی شهرت پکې لیکل کیږي او ډکول یې اړینه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بې نتیجه کیدو په صورت کې

ښه او بهتره خبره داده که چېرې کوم کانکور ورکونکی بې نتیجې شي نو بې له ځنډه نیمه لوړو زده کړو(دارالمعلمین او انستیتیوت) ته عارض شي.
د همدی نیمه لوړی زده کړو د ختمولو څخه وروسته بیا لوړو زده کړو وزارت د نیمه لوړو زده کړو فارغینو څخه اختصاصي کانکور ازموینه اخلي او د کامیابی په صورت کې د خپلې رشتې مطابق پوهنځي په دویم ټولګی(دریم سمستر)شاملیدو حق پیداکوي.
**ځیرکتیا:** هر کال د اوړي په پای او د ګرم سیر پوهنتونو د شروع کیدو څخه ځو اوونۍ مخکې د اختصاصي کانکور ازموینه اخستل کیږي.

## د کانکور له لارې خصوصي موسساتو(پوهنتونونو) ته کامیابیدل

پدې ورستیو کلونو کې د کانکور له لارې شخصي موسساتو او پوهنتونونو ته ځني د کانکور امتحان ورکونکي په ځانګړي تخفیف سره معرفي کېږي باید د کانکور امتحان ورکونکي خپله پایله مربوطه شخصي پوهنتون ته وسپاري.
د کانکور له لارې د زیاتو نمرو په بدل کې بیا هم بې نتیجې کیدلو په صورت باید څه وکړو؟
1-پداسې حالاتو کې د کانکور د پایلو څخه ځو ورځې وروسته پوهنتونونو ته د لوړو نمرو وړونکو لپاره ځانګړې فورمې راځي باید ډکې شي او د خپلو نمرو مطابق پوهنځی انتخاب شي.
2- ښه به وي چې د زیاتو نمرو وړونکي د بې نتیجې کیدو په صورت کې د لوړو زده کړو وزارت ته عارض شي تر ځو ځانګړې فورمه ډکه کړئ او د نمرو مطابق پوهنځی بیا انتخاب کړئ او دا هم یو چانس دی.

## تعجیل

که ځوک پوهنتون ته بریالی شي او غواړي چې د یو کال وقفې ( ځنډ ) وروسته خپل درسونو ته دوام ورکړي نو لومړی به په هغه پوهنځي کې چې ورته بریالی شوی دی نوم لیکنه وکړی او وروسته به د پوهنتون ریاست ته عارض شي تر ځو تعجیل ترلاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پاملرنه**: د یو تحصیلي کال پوره کیدو سره سم باید تعجیل اخیستونکی بیرته خپل د پوهنځي درسونو ته حاضرشي.

**منفکي**

که یوځوک د کانکور د لارې کوم پوهنځي ته ورکړل شوی وي او هغه نه غواړي چې د نوموړي پوهنځي درسونه تعقیب کړي او تصمیم لري چې راتلونکی کال بیا د کانکور ازموینه ورکړي نو باید پوهنتون ته عارض شي او خپله منفکي ترلاسه کړي.کله چې د کانکور نتیجه اعلان شي نو تر پنځه ویشت (۲۵) ورځو پورې د پوهنځي له لارې ځان منفک او د انفکاک مکتوب د آزموینې عمومي ریاست ته وسپاري.
که چیرې دغه کټګوري زده کوونکې ناوخته او یا د لومړي سمستر له آزموینې ځخه وروسته ، دغه کار ترسره کړي اولومړي خو په راتلونکې د کانکور آزموینې ګډون نه شي کولاي شي خو که بیا هم په ورپسې آزموینه ګډون وکړي که چیري کامیاب هم شي په دې صورت کې د یو کلن ناکام په حیث پیژندل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کانکور ازموینې ځواب پاڼه

ځواب پاڼه په عمومي توګه په پنځو ځانګړو برخوویشل شوې ده.

1) د ای ډي نمبر برخه چې ( ۸) عددو څخه جوړه وي په ځواب پاڼه کې ورته (۸)خانې وجود لري.
2) فارم نمبر برخه چې عموماً له (۴) عددونوڅخه جوړه شوی رقم وي په ځواب پاڼه کې ځانته (۴) خانې لري.
3) پوهنځیو او دیپارتمنت برخه چې عموماً ( ۳ ) رمزونو څخه جوړ رقم وي چې په ځواب پاڼه کی ورته ( ۳) وجود لري.
4) د سوالونو ځوابونو برخه چې په افقي ډول څلور خانې لري چې هر صحیح جز په مقابل کې همغه خانه توریږي.

**پاملرنه**: په ای ډي کې باید ډیر دقت وشي که چیرته د کانکور په ځواب پاڼه کې ای ډي نمبر غلط او یا نیمګړی ولیکل شي نو کانکور ورکونکی به سل په سلو کې بې نتیجې وي. که د کانکور په ځواب پاڼه کې نوم یا د پلار نوم یا د نیکه نوم و نه لیکل شي خو ای ډي نمبر لیکل شوی وي پروا نه کوي.

**فارم نمبر** :د سوالو هره کتابچه ځانګړې نمره لري چې فارم نمبر ورته ویل کیږي. د سوالونو په ځواب پاڼه کې ځانته ځانګړې خانه لري چې باید د درکړل شوو سوالونو فارم نمبر پکې ولیکل شي.

**پاملرنه**:

- هغه ماشین چې دکانکور ځواب پاڼې ته نمبرې ورکوي یوازې فارم پیژني.که په ځواب پاڼه کې د فارم نمبر ونه رسیږي نو (ORM) ماشین یې نه پاس کوی او د ناکامې سبب ګرځي
- پر څلور ځوابه کې باید صحیح جز مکمل تور شي هغه ماشین چې د کانکور سوالونو ته نمبرې ورکوي صرف او صرف هغه جز پیژني چې مکمل تور شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱-که صحیح جز دارنګه انتخاب شي ماشین نمرې نه ورکوي.
2-که صحیح جز دارنګه انتخاب شي ماشین نمرې نه ورکوي.
3-که صحیح جز دارنګه انتخاب شي ماشین نمرې ورکوي.
4- که صحیح جز دارنګه انتخاب شي ماشین نمرې نه ورکوي.
که په ځواب کې یوه خانه هم انتخاب نشي نمرې نلري.او که په څلور ځوابه کې دوه خانې تورې شي نمرې نلري.

**کانکور ازموینه کې څو انتخابه کید لی شي**

د کانکور په ازموینه کې (5 ) انتخابه کېدلی شي پکار ده چې د پوهنځیو د کوډونو معلوماتي ورقې په سمه توګه مخکې له مخکې یادې شي.
د پوهنځیو په انتخاب کې باید له ډیر دقت څخه کار واخستل شي.پکار ده انتخاب له لوړ پوهنځي څخه ټیټ پوهنځي پورې وشي مطلب په نسبي ډول لمړی باید دلوړو نمرو لرونکی پوهنځی انتخاب شي همداسې تر پایه پنځم انتخاب پورې.ډیره ضروري ده چې د تیرو کالو د پوهنځیو د نمرو څخه یو څه معلومات ولري.
**پاملرنه**: باید حتمي پنځه واړه مختلف پوهنځي انتخاب شي که څوک له پنځو کم پوهنځي انتخاب کړي نو خپله ځانته د ناکامی چانس برابروي.
**پاملرنه**: د کتاب په پای کې د 1393 او 1394 کال د پوهنځیو لوړې او ټیټې نمرې راوړل شوي دي.
او همدارنګه د سږني کال(۱۳۹۴) د پوهنځیو کوډونه او ظرفیت هم راوړل شوی ، ښه خبره چې د خپلې خوابښې پوهنځیو کوډونه همدا اوس ورڅخه یاد کړی تر څو د کانکور ازموینه کې تیر نه وځې.

**کانکور د سوالونو طبقه بندي**

د کانکور ازموینې ټول 160 سوالونه دي، هر سوال 2.25 نمرې لري چې په مجموعي توګه 360 نمرې کېږي. 160x2.25=360
د کانکور سوالونه د لیسې دورې د ټولو کتابونو په ځانګړې توګه د اووم څخه تر دولسم ټولګي د کتابونو څخه جوړیږي چې نوموړي سوالونه په کانکور کې پر څلورو خاصو برخو طبقه بندي شوي دي.

1- ریاضیات: په تقریبي ډول د کانکور په ازموینه کې 43 په شاوخوا کې د ریاضیاتو(حساب ،الجبر،هندسه،مثلثات،)سوالونه راځي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقریباً هر سوال یوه نیمه دقیقه وخت لري چې په مجموعي توګه د 43 سوالونو 65 دقیقې وخت کیږي.

2- طبعی علوم: تقریباً د کانکور په ازموینه کې 42 سوالونه وي چې هر سوال یوه دقیقه وخت لري چې په مجموعي توګه ټول وخت یې شااوخوا 42 دقیقې کیږي

3- دیني او اجتماعي علوم: په ازموینه کې تقریباً د دینـي علومو(تفسیر شریف،عقاید،فقه،حدیث شریف) او اجتماعي علومو ټول سوالونه د40 په شاو خوا کې دي،چې هر سوال ته 40 ثانیې وخت ورکول کیږي چې ټولو سوالونو وخت پوره 26 دقیقې کیږي.

4- السـنه او عمـومي معلومـات: د کـانکور پـه ازموینـه کـې د السنه(پښتو،دری،) او عمومي معلوماتو ټول سوالونه د 36 په شاو خوا کې وي تقریباً هر سوال ته 48 ثانیې وخت ورکول کیږي چې ټولو سوالونو 29 دقیقې وخت کیږي.

| شماره | ازمویني طبقه بندي | سوالونو تعداد | سوالونو شماره | | دقیقې او وخت |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | څخه | تر | |
| 1 | ریاضیات | 43 | 1 | 43 | 65 |
| 2 | طبعي علوم | 42 | 44 | 85 | 40 |
| 3 | دیني او اجتماعي علوم | 39 | 86 | 124 | 26 |
| 4 | السنه او عمومي معلومات | 36 | 125 | 160 | 29 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کامیاب کانکور

| شماره | پوهنځي | پوهنځیو لوړې نمرې | پوهنځیو ټیټي نمري |
|---|---|---|---|
| ۱ | بغلان پوهنتون ادبیات پوهنځی | ۳۰۶ | ۲۴۳ |
| ۲ | خوست پوهنتون ادبیات پوهنځی | ۳۰۵ | ۲۶۱ |
| ۳ | فاریاب پوهنتون ادبیات پوهنځي | ۳۱۶ | ۲۸۶ |
| ۴ | لغمان پوهنتون ادبیات پوهنځی | ۳۰۹ | ۲۲۱ |
| ۵ | کندهار پوهنتون ادبیات پوهنځی | ۳۰۵ | ۲۱۲ |
| ۶ | بدخشان پوهنتون ادبیات پوهنځي | ۲۹۸ | ۲۲۵ |
| ۷ | پکتیا پوهنتون اقتصاد پوهنځی | ۳۲۸ | ۲۸۰ |
| ۸ | پوهنتون بامیان اقتصاد پوهنځی | ۳۲۰ | ۲۶۴ |
| ۹ | البیروني پوهنتون اقتصاد پوهنځی | ۳۱۵ | ۲۸۶ |
| ۱۰ | بدخشان پوهنتون اقتصاد پوهنځی | ۳۱۵ | ۲۶۶ |
| ۱۱ | پوهنتون بلخ پوهنتون اقتصاد پوهنځی | ۳۵۲ | ۳۱۰ |
| ۱۲ | پوهنتون بغلان پوهنتون اقتصاد پوهنځی | ۳۲۹ | ۲۷۸ |
| ۱۳ | پوهنتون فاریاب پوهنتون اقتصاد پوهنځی | ۳۲۶ | ۲۹۹ |
| ۱۴ | اقتصاد پوهنځی پوهنتون غزني پوهنتون اقتصاد پوهنځی | ۳۲۴ | ۲۶۹ |
| ۱۵ | کابل پوهنتون اقتصاد پوهنځی | ۳۴۳ | ۳۰۲ |
| ۱۶ | کندز پوهنتون اقتصاد پوهنځی | ۳۲۷ | ۲۸۴ |
| ۱۷ | کندهار پوهنتون اقتصاد پوهنځی | ۳۳۳ | ۲۷۹ |
| ۱۸ | کنړ پوهنتون اقتصاد پوهنځی | ۳۲۶ | ۲۸۱ |
| ۱۹ | هرات پوهنتون اقتصاد پوهنځی | ۳۳۴ | ۳۰۲ |
| ۲۰ | ننګرهار اقتصاد پوهنځی پوهنتون | ۳۳۳ | ۲۹۸ |
| ۲۱ | پروان لوړو زده کړو موسسه اقتصاد پوهنځی | ۳۴۳ | ۲۸۴ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۳ | بادغیس لوړو زده کړو موسسه اقتصاد پوهنځی | ۳۲۴ | ۲۴۱ |
| ۲۴ | بغلان پوهنتون انجینیري پوهنځی | ۳۳۸ | ۲۹۲ |
| ۲۵ | پکتیا پوهنتون انجینیري پوهنځی | ۳۳۶ | ۲۸۷ |
| ۲۶ | خوست پوهنتون انجینیري پوهنځی | ۳۴۰ | ۲۹۱ |
| ۲۷ | فاریاب پوهنتون انجینیري پوهنځی | ۳۳۵ | ۳۰۲ |
| ۲۸ | هرات پوهنتون انجینیري پوهنځی | ۳۴۷ | ۳۱۵ |
| ۲۹ | لغمان پوهنتون انجینیري پوهنځی | ۳۳۱ | ۲۸۲ |
| ۳۰ | بلخ پوهنتون تعلیم و تربیه پوهنځی | ۳۴۹ | ۲۶۰ |
| ۳۱ | هلمند لوړو زده کړو موسسه انجینیري پوهنځی | ۳۲۱ | ۲۸۰ |
| ۳۲ | هرات پوهنتون تعلیم و تربیه پوهنځی | ۳۰۹ | ۲۳۸ |
| ۳۳ | بادغیس لوړو زده کړو موسسه ښوونې او روزنې پوهنځی | ۲۹۶ | ۱۷۶ |
| ۳۴ | البیروني پوهنتون پوهنځی تعلیم و تربیه | ۲۹۸ | ۲۳۶ |
| ۳۵ | سرپل لوړو زده کړو موسسه ښوونې او روزنې پوهنځي | ۲۹۱ | ۲۱۶ |
| ۳۶ | بامیان پوهنتون تعلیم و تربیه پوهنځی | ۳۱۲ | ۲۲۵ |
| ۳۷ | بدخشان پوهنتون تعلیم و تربیه پوهنځی | ۲۸۲ | ۲۱۸ |
| ۳۸ | بغلان پوهنتون تعلیم و تربیه پوهنځی | ۳۰۳ | ۲۲۸ |
| ۳۹ | پکتیا پوهنتون تعلیم و تربیه پوهنځی | ۲۹۵ | ۲۳۰ |
| ۴۰ | خوست پوهنتون تعلیم و تربیه پوهنځی | ۳۰۰ | ۲۴۲ |
| ۴۱ | غزني پوهنتون تعلیم و تربیه پوهنځی | ۲۹۵ | ۲۲۱ |
| ۴۲ | فاریاب پوهنتون تعلیم و تربیه پوهنځی | ۳۲۴ | ۲۸۷ |
| ۴۳ | کندز پوهنتون تعلیم و تربیه پوهنځی | ۳۰۸ | ۲۳۳ |
| ۴۴ | کنړ پوهنتون تعلیم و تربیه پوهنځی | ۲۹۹ | ۲۰۵ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۴۵ | لغمان پوهنتون تعلیم وتربیه پوهنځی | ۲۹۳ | ۱۹۸ |
| ۴۷ | پوهنځی تعلیم وتربیه موسسات تحصیلات عالي پروان | ۲۹۳ | ۲۲۷ |
| ۴۹ | پوهنځی تعلیم وتربیه موسسات تحصیلات عالي فراه | ۲۹۴ | ۱۷۶ |
| ۵۰ | پوهنځی تعلیم وتربیه موسسات تحصیلات عالي هلمند | ۳۱۹ | ۱۹۵ |
| ۵۱ | ننګرهار پوهنتون تعلیمات مسلکي پوهنځی | ۲۹۲ | ۱۷۶ |
| ۵۲ | پوهنځی تعلیم وتربیه موسسه تحصیلات عالي ارزګان | ۲۰۰ | ۱۷۶ |
| ۵۳ | بلخ پوهنتون جیولوژي ومعادن پوهنځی | ۳۲۰ | ۲۳۵ |
| ۵۴ | پوهنځی جیولوژي ومعادن موسسات تحصیلات عالي سرپل | ۳۱۸ | ۲۳۶ |
| ۵۵ | کندز پوهنتون حقوق پوهنځی | ۳۲۴ | ۲۹۴ |
| ۵۶ | پکتیا پوهنتون حقوق پوهنځی | ۳۲۴ | ۲۸۵ |
| ۵۷ | هرات پوهنتون حقوق پوهنځی | ۳۲۲ | ۳۰۴ |
| ۵۸ | البیروني پوهنتون حقوق پوهنځی | ۳۳۰ | ۲۹۷ |
| ۵۹ | بلخ پوهنتون حقوق پوهنځی | ۳۵۲ | ۳۲۱ |
| ۶۰ | بدخشان پوهنتون حقوق پوهنځی | ۳۱۰ | ۲۶۰ |
| ۶۱ | فاریاب پوهنتون حقوق پوهنځی | ۳۲۹ | ۳۰۸ |
| ۶۲ | خوست پوهنتون حقوق پوهنځی | ۳۲۸ | ۲۸۸ |
| ۶۳ | ننګرهار پوهنتون حقوق پوهنځی | ۳۳۸ | ۲۹۹ |
| ۶۴ | کندهار پوهنتون حقوق پوهنځی | ۳۳۲ | ۲۸۲ |
| ۶۵ | کابل پوهنتون حقوق وعلوم سیاسي پوهنځی | ۳۲۸ | ۳۱۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ٦٦ | موسسات تحصیلات عالي پروان حقوق پوهنځی | ٣١١ | ٢٩٠ |
| ٦٧ | پکتیا پوهنتون زراعت پوهنځی | ٣١۴ | ٢٣١ |
| ٦٨ | هرات پوهنتون زراعت پوهنځی | ٣١٣ | ٢۵٢ |
| ٦٩ | موسسات تحصیلات عالي فراه زراعت پوهنځی | ٣٠٧ | ١۵٨ |
| ٧١ | البیروني پوهنتون زراعت پوهنځی | ٣١٠ | ٢۵٧ |
| ٧٢ | موسسات تحصیلات عالي هلمند زراعت پوهنځی | ٣٠۴ | ٢٠٠ |
| ٧٣ | بغلان پوهنتون زراعت پوهنځی | ٣١٩ | ٢۴۵ |
| ٧۴ | بدخشان پوهنتون زراعت پوهنځی | ٢٩۵ | ٢٣٠ |
| ٧۵ | خوست پوهنتون زراعت پوهنځی | ٣١١ | ٢۵١ |
| ٧٦ | غزني پوهنتون زراعت پوهنځی | ٢٩۴ | ٢١١ |
| ٧٧ | فاریاب پوهنتون زراعت پوهنځی | ٣٢١ | ٢٧٦ |
| ٧٨ | کندز پوهنتون زراعت پوهنځی | ٢٩٨ | ٢۴٦ |
| ٧٩ | کنړ پوهنتون زراعت پوهنځی | ٣١٦ | ٢٢٢ |
| ٨٠ | کندهار پوهنتون زراعت پوهنځی | ٢٩۴ | ٢٢٣ |
| ٨١ | لغمان پوهنتون زراعت پوهنځی | ٣١٦ | ٢٢٦ |
| ٨٢ | ننګرهار پوهنتون زراعت پوهنځی | ٣٠٩ | ٢٣۵ |
| ٨٣ | موسسات تحصیلات عالي پروان زراعت پوهنځی | ٣٠٩ | ٢۵٢ |
| ٨۴ | موسسات تحصیلات عالي بادغیس زراعت پوهنځی | ٢٩٨ | ١٨۴ |
| ٨۵ | بامیان پوهنتون زراعت ومالداري پوهنځی | ٣١٧ | ٢١٧ |
| ٨٦ | موسسه تحصیلات عالي ارزګان زراعت پوهنځی | ٣٠١ | ٢٠١ |
| ٨٧ | بلخ پوهنتون ژورنالیزم پوهنځی | ٣٢٢ | ٢٩٣ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۸۸ | بامیان پوهنتون زمین شناسي پوهنځی | ۲۹۳ | ۲۴۲ |
| ۸۹ | هرات پوهنتون ژورنالیزم پوهنځی | ۳۱۵ | ۲۷۲ |
| ۹۰ | البیروني پوهنتون ژورنالیزم پوهنځی | ۳۱۵ | ۲۷۳ |
| ۹۱ | بغلان پوهنتون ژورنالیزم پوهنځی | ۳۴۰ | ۲۶۷ |
| ۹۲ | خوست پوهنتون ژورنالیزم پوهنځی | ۳۰۸ | ۲۷۱ |
| ۹۳ | کابل پوهنتون ژورنالیزم پوهنځی | ۳۳۱ | ۲۹۵ |
| ۹۴ | کندهار پوهنتون ژورنالیزم پوهنځی | ۳۲۳ | ۲۶۵ |
| ۹۵ | ننګرهار پوهنتون ژورنالیزم پوهنځی | ۳۱۷ | ۲۷۴ |
| ۹۶ | موسسات تحصیلات عالي پروان ژورنالیزم پوهنځی | ۳۰۰ | ۲۶۷ |
| ۹۷ | پوهنځی ساختماني پوهنتون جوزجان | ۳۴۲ | ۳۰۷ |
| ۹۸ | بلخ پوهنتون ساینس پوهنځی | ۳۱۸ | ۲۵۶ |
| ۹۹ | هرات پوهنتون ساینس پوهنځی | ۳۵۰ | ۲۵۳ |
| ۱۰۰ | کابل طب پوهنتون ستوماتولوژي پوهنځی | ۳۴۰ | ۳۲۰ |
| ۱۰۱ | هرات پوهنتون ستوماتولوژي پوهنځی | ۳۵۰ | ۲۵۳ |
| ۱۰۲ | کندز پوهنتون ستوماتولوژي پوهنځی | ۳۳۶ | ۲۹۸ |
| ۱۰۳ | هرات پوهنتون شرعیات پوهنځی | ۳۱۸ | ۲۵۶ |
| ۱۰۴ | بدخشان پوهنتون شرعیات پوهنځی | ۲۹۹ | ۲۳۷ |
| ۱۰۵ | بغلان پوهنتون شرعیات پوهنځی | ۳۰۸ | ۲۵۶ |
| ۱۰۶ | غزني پوهنتون شرعیات پوهنځی | ۳۰۳ | ۲۳۷ |
| ۱۰۷ | کابل پوهنتون شرعیات پوهنځی | ۳۲۵ | ۲۹۰ |
| ۱۰۸ | کندهار پوهنتون شرعیات پوهنځی | ۲۸۹ | ۲۳۷ |
| ۱۰۹ | پوهنځی صحت عامه پوهنتون طبي کابل | ۳۳۱ | ۲۹۸ |
| ۱۱۰ | کنړ پوهنتون شرعیات پوهنځی | ۳۱۷ | ۲۴۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۱۱ | کندهار پوهنتون طب پوهنځی | ۳۵۰ | ۳۱۱ |
| ۱۱۲ | خوست پوهنتون طب پوهنځی | ۳۳۵ | ۳۱۱ |
| ۱۱۳ | هرات پوهنتون طب پوهنځی | ۳۴۹ | ۳۲۷ |
| ۱۱۴ | ننګرهار پوهنتون طب پوهنځی | ۳۴۵ | ۳۱۸ |
| ۱۱۵ | بلخ پوهنتون طب پوهنځی | ۳۵۱ | ۳۳۲ |
| ۱۱۶ | البیروني پوهنتون طب پوهنځی | ۳۴۰ | ۳۱۵ |
| ۱۱۷ | پکتیا پوهنتون طب پوهنځی | ۳۴۵ | ۳۰۸ |
| ۱۱۸ | پوهنځی علوم اجتماعي پوهنتون بلخ | ۳۰۴ | ۲۲۷ |
| ۱۱۹ | پوهنځ علوم اجتماعي پوهنتون بدخشان | ۲۸۹ | ۲۰۶ |
| ۱۲۰ | پوهنځی علوم اجتماعي پوهنتون بامیان | ۲۸۴ | ۲۲۵ |
| ۱۲۱ | پوهنځی علوم اجتماعي پوهنتون خوست | ۲۹۶ | ۲۱۳ |
| ۱۲۲ | پوهنځی علوم اجتماعي موسسات تحصیلات علي پروان | ۲۸۹ | ۱۹۱ |
| ۱۲۳ | پوهنځی فارمسي پوهنتون بلخ | ۳۳۱ | ۲۹۶ |
| ۱۲۴ | پوهنځی علوم وترنري پوهنتون کابل | ۲۹۸ | ۲۳۹ |
| ۱۲۵ | پوهنځی کمپیوټر ساینس پوهنتون بلخ | ۳۴۳ | ۳۰۹ |
| ۱۲۶ | پوهنځی فارمسي پوهنتون کابل | ۳۳۱ | ۳۰۰ |
| ۱۲۷ | پوهنځی کمپیوتر ساینس پوهنتون کندز | ۳۲۶ | ۲۸۲ |
| ۱۲۸ | پوهنځی کمپیوتر ساینس پوهنتون خوست | ۳۱۴ | ۲۷۸ |
| ۱۲۹ | پوهنځی کمپیوتر ساینس پوهنتون کنړ | ۳۳۲ | ۲۷۳ |
| ۱۳۰ | پوهنځی کمپیوتر ساینس پوهنتون کندهار | ۳۲۰ | ۲۷۳ |
| ۱۳۱ | پوهنځی کمپیوتر ساینس پوهنتون ننګرهار | ۳۲۸ | ۲۸۷ |
| ۱۳۲ | پوهنځی کمپیوتر ساینس موسسات تحصیلات عالي پروان | ۳۰۷ | ۲۷۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۳۳ | پوهنځی معالجوي پوهنتون طبي کابل | ۳۵۲ | ۳۳۳ |
| ۱۳۴ | پوهنځی هنرها پوهنتون هرات | ۳۱۹ | ۲۳۳ |
| ۱۳۵ | پوهنځی وترنري پوهنتون بلخ | ۳۱۴ | ۲۳۴ |
| ۱۳۶ | پوهنځی وترنري پوهنتون خوست | ۲۸۲ | ۲۴۱ |
| ۱۳۷ | پوهنځی وترنري پوهنتون ننګرهار | ۳۰۸ | ۲۰۷ |
| ۱۳۸ | پوهنځی وترنري پوهنتون کندز | ۳۰۰ | ۲۲۷ |
| ۱۳۹ | پوهنځی وترنري پوهنتون هرات | ۳۰۰ | ۲۳۰ |
| ۱۴۰ | پوهنځی وترنري موسسات تحصیلات عالي هلمند | ۲۸۱ | ۱۸۹ |
| ۱۴۱ | دیپارتمنت ابرساني وانجینیري محیط زیست پوهنځی ساختماني پوهنتون پولی تخنیك | ۳۲۷ | ۲۸۷ |
| ۱۴۲ | دیپارتمنت اب ومحیط زیست پوهنځی انجینیري پوهنتون کندهار | ۲۹۵ | ۱۷۷ |
| ۱۴۳ | دیپارتمنت ابیاري پوهنځی انجینیري پوهنتون ننګرهار | ۳۳۲ | ۲۴۹ |
| ۱۴۴ | دیپارتمنت اتومیخانیك پوهنځی الکترومیخانیك پوهنتون پولی تخنیك | ۳۱۶ | ۲۶۷ |
| ۱۴۵ | دیپارتمنت اداره واطلاعات پوهنځی کمپیوتر ساینس تعلیم وتربیه شهید استاد رباني | ۳۳۱ | ۲۶۸ |
| ۱۴۶ | دیپارتمنت اداره وحوادث پوهنځی محیط زیست پوهنتون کابل | ۳۲۲ | ۲۶۴ |
| ۱۴۷ | دیپارتمنت اداره وساختماني پوهنځی ساختماني پوهنتون پولی تخنیك | ۳۳۵ | ۲۸۱ |
| ۱۴۸ | دیپارتمنت اداره ودیپلوماسي پوهنځی حقوق پوهنتون جوزجان | ۳۲۵ | ۳۰۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۴۹ | دیپارتمنت اداره و منجمنت پوهنځی اقتصاد پوهنتون تخار | ۳۱۶ | ۲۷۷ |
| ۱۵۰ | دیپارتمنت اداره و مدیریت پوهنځی اقتصاد موسسات علي سمنگان | ۳۱۰ | ۲۸۳ |
| ۱۵۱ | دیپارتمنت اداره و منجمنت تربیتي روانشناسي و علوم تربیتي پوهنتون کابل | ۳۰۰ | ۲۸۱ |
| ۱۵۲ | دیپارتمنت ادبیات پوهنځی تعلیم و تربیه موسسات تحصیلات عالي سمنگان | ۲۹۸ | ۲۳۷ |
| ۱۵۳ | دیپارتمنت ادبیات ازبکي و ادبیات زبان انگلیسي پوهنځی علوم اجتماعي جوزجان | ۲۹۶ | ۲۵۴ |
| ۱۵۴ | دیپارتمنت ادبیات ازبکي و ادبیات زبان انگلیسي پوهنځی تعلیم و تربیه پوهنتون جوزجان | ۲۹۱ | ۲۵۶ |
| ۱۵۵ | دیپارتمنت ادبیات انگلیسي پوهنځی ادبیات پوهنتون ننگرهار | ۲۹۳ | ۲۴۵ |
| ۱۵۶ | دیپارتمنت ادبیات جرمني پوهنځی ادبیات پوهنتون ننگرهار | ۲۹۲ | ۱۸۵ |
| ۱۵۷ | دیپارتمنت ادبیات دری پوهنځی ادبیات پوهنتون ننگرهار | ۳۱۹ | ۲۰۲ |
| ۱۵۸ | دیپارتمنت ادبیات هندي پوهنځی ادبیات ننگرهار پوهنتون | ۲۶۰ | ۱۷۶ |
| ۱۵۹ | بلخ پوهنتون ادبیات پوهنځی ازبکي دیپارتمنت | ۳۱۴ | ۲۰۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۶۰ | دیپارتمنت ازبکي پوهنځی ادبیات پوهنتون تخار | ۲۷۱ | ۲۱۹ |
| ۱۶۱ | دیپارتمنت استخراج معادن پوهنځی جیولوژي ومعادن پوهنتون پولی تخنیك | ۳۲۴ | ۲۸۳ |
| ۱۶۲ | دیپارتمنت استخراج برهنه پوهنځی جیولوجي ومعادن پوهنتون پولی تخنیك | ۲۹۱ | ۱۷۸ |
| ۱۶۳ | دیپارتمنت استخراج ومعدن جامد پوهنځی جیولوجي ومعادن پوهنتون جوزجان | ۳۰۸ | ۲۷۳ |
| ۱۶۴ | دیپارتنمت استخراج معدن پوهنځی جیولوجي ومعادن موسسات عالي پنجشیر | ۲۸۶ | ۲۴۶ |
| ۱۶۵ | دیپارتمنت اقتصاد توسعه زراعتي پوهنځی زراعت پوهنتون کابل | ۳۱۴ | ۲۸۹ |
| ۱۶۶ | دیپارتمنت اقتصاد زراعتي پوهنځی زراعت موسسات تحصیلات عالي سمنگان | ۳۰۰ | ۲۶۰ |
| ۱۶۷ | دیپارتمنت کشاف معادن پوهنځی جیولوجي و معادن پوهنتون پولی تخنیك | ۳۱۳ | ۲۷۸ |
| ۱۶۸ | دیپارتمنت اقتصاد زراعتي وعلوم حیواني پوهنځی زراعت پوهنتون تخار | ۲۹۲ | ۲۴۶ |
| ۱۶۹ | دیپارتمنت اکتشاف معادن جامد پوهنځی جیولوجي ومعادن پوهنتون جوزجان | ۳۰۲ | ۲۳۸ |
| ۱۷۰ | تخار پوهنتون پوهنځی زراعت رانومي دیپارتمنت | ۲۸۷ | ۲۴۲ |
| ۱۷۱ | دیپارتمنت رانومي پوهنځی زراعت موسسات تحصیلات عالي سمنگان | ۳۰۳ | ۲۲۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۷۲ | کابل پوهنتون زراعت پوهنځی رانومي دیپارتمنت | ۳۰۲ | ۲۴۵ |
| ۱۷۳ | دیپارتمنت اموزش کمپیوتر پوهنځی کمپیوتر ساینس پوهنتون تعلیم و تربیه شهید استاد رباني | ۳۱۰ | ۲۷۲ |
| ۱۷۴ | دیپارتمنت انرژي پوهنځی انجینیر پوهنتون کندهار | ۳۲۱ | ۲۲۳ |
| ۱۷۵ | دیپارتمنت انرژي پوهنځی انجینیري پوهنتون کابل | ۳۱۹ | ۲۸۰ |
| ۱۷۶ | دیپارتمنت انجینیري نرم افزار پوهنځی کمپیوتر ساینس پوهنتون کابل | ۳۴۸ | ۳۰۷ |
| ۱۷۸ | تخار پوهنتون ادبیات پوهنځی انګلیسي دیپارتمنت | ۳۲۶ | ۲۶۱ |
| ۱۷۹ | دیپارتمنت انستیزي پوهنځی متمم صحي طبي پوهنتون کابل | ۳۰۲ | ۲۸۶ |
| ۱۸۰ | دیپارتمنت انګلیسي پوهنځی تعلیم و تربیه موسسات تحصیلات عالي پکتیا | ۲۶۴ | ۱۷۶ |
| ۱۸۱ | دیپارتمنت انګلیسي پوهنځی زبان و ادبیات پوهنتون تعلیم و تربیه شهید استاد رباني | ۳۱۴ | ۲۶۵ |
| ۱۸۲ | دیپارتمنت انګلیسي پوهنځی تعلیم و تربیه موسسات تحصیلات عالي | ۲۷۷ | ۱۹۴ |
| ۱۸۳ | دیپارتمنت انګلیسي پوهنځی ادبیات پوهنتون بلخ | ۳۴۳ | ۲۹۱ |
| ۱۸۴ | دیپارتمنت انګلیسي زبان و ادبیات | ۲۹۷ | ۲۲۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| | پوهنتون البیروني | | |
| ۱۸۵ | دیپارتمنت انګلیسي پوهنځی زبان های خارجي پوهنتون کابل | ۳۲۶ | ۲۸۳ |
| ۱۸۶ | دیپارتمنت بایوتکنالوژي پوهنځی زراعت پوهنتون کابل | ۲۸۷ | ۲۲۲ |
| ۱۸۷ | دیپارتمنت برق پوهنځی انجینیري پوهنتون کابل | ۳۴۴ | ۳۱۶ |
| ۱۸۸ | دیپارتمنت برق پوهنځی تکنالوژي کیمیاوي پوهنتون جوزجان | ۳۱۵ | ۲۷۸ |
| ۱۸۹ | دیپارتمنت بشرشناسي وباستان شناسي پوهنځی علوم اجتماعي پوهنتون کابل | ۳۲۷ | ۲۵۰ |
| ۱۹۰ | دیپارتمنت برق پوهنځی انجینیري پوهنتون البیروني | ۳۱۱ | ۲۷۳ |
| ۱۹۱ | دیپارتمنت بیولوژي پوهنځی تعلیم وتربیه پوهنتون ننګرهار | ۲۹۳ | ۲۱۹ |
| ۱۹۲ | دیپارتمنت بلوچي پوهنځی تعلیم وتربیه پوهنتون کندهار | ۲۸۹ | ۱۷۷ |
| ۱۹۳ | دیپارتمنت بیولوژي پوهنځی علوم طبیعي پوهنتون تعلیم وتربیه شهید استاد رباني | ۲۹۹ | ۲۴۶ |
| ۱۹۴ | دیپارتمنت بیولوژي پوهنځی ساینس پوهنتون ننګرهار | ۲۹۷ | ۲۰۶ |
| ۱۹۵ | کابل پوهنتون ساینس پوهنځی بیولوژي دیپارتمنت | ۳۱۷ | ۲۵۶ |
| ۱۹۶ | جوزجان پوهنتون تعلیم وتربیه پوهنځی | ۳۰۰ | ۲۶۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| | بیولوژي دیپارتمنت | | |
| ۱۹۷ | دیپارتمنت پشتو پوهنځی زبان و ادبیات ملي پوهنتون کابل | ۳۳۰ | ۲۵۸ |
| ۱۹۸ | دیپارتمنت پشتو پوهنځی زبان و ادبیات پوهنتون البیروني | ۶۲ | ۱۹۸ |
| ۱۹۹ | بلخ پوهنتون ادبیات پوهنځی پشتو دیپارتمنت | ۳۱۱ | ۲۳۸ |
| ۲۰۰ | دیپارتمنت پشتو پوهنځی ادبیات پوهنتون تخار | ۲۸۰ | ۲۱۴ |
| ۲۰۱ | ننګرهار پوهنتون ادبیات پوهنځی پشتو دیپارتمنت | ۳۰۹ | ۲۵۷ |
| ۲۰۲ | ننګرهار پوهنتون تعلیم و تربیه پوهنځی پشتو دیپارتمنت | ۳۰۶ | ۲۱۰ |
| ۲۰۳ | دیپارتمنت پشتو پوهنځی تعلیم و تربیه موسسات تحصیلات علي پکتیکا | ۲۷۱ | ۱۸۴ |
| ۲۰۴ | دیپارتمنت پشتو پوهنځی تعلیم و تربیه موسسات تحصیلات عالي پنجشیر | ۲۲۹ | ۱۷۶ |
| ۲۰۵ | دیپارتمنت پشتو پوهنځی زبان و ادبیات پوهنتون تعلیم و تربیه شهید استاد رباني | ۳۲۷ | ۲۳۶ |
| ۲۰۶ | دیپارتمنت پلان و پروګرام پوهنځی روانشناسي و علوم تربیتي پوهنتون کابل | ۲۹۷ | ۲۳۹ |
| ۲۰۷ | دیپارتمنت پیداګوژي پوهنځی روانشناسي و علوم تربیتي پوهنتون کابل | ۳۱۶ | ۲۶۷ |
| ۲۰۸ | دیپارتمنت تاریخ پوهنځی تعلیم و تربیه پوهنتون جوزجان | ۳۱۲ | ۲۵۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۰۹ | دیپارتمنت تاریخ پوهنځی تعلیم و تربیه موسسات تحصیلات عالي سمنګان | ۲۹۵ | ۲۱٦ |
| ۲۱۰ | دیپارتمنت تاریخ پوهنځی تعلیم و تربیه پوهنتون ننګرهار | ۲۸۳ | ۱۹۳ |
| ۲۱۱ | دیپارتمنت تاریخ پوهنځی علوم اجتماعي پوهنتون جوزجان | ۳۱۴ | ۲٦۳ |
| ۲۱۲ | دیپارتمنت تاریخ عمومي پوهنځی علوم اجتماعي پوهنتون تعلیم و تربیه شهید استاد رباني | ۲۸۱ | ۲۳۱ |
| ۲۱۳ | دیپارتمنت تاریخ عمومي پوهنځی علوم اجتماعي پوهنتون کابل | ۳۱۱ | ۲۵۳ |
| ۲۱۴ | دیپارتمنت تاریخ معاصر پوهنځی علوم اجتماعي پوهنتون تعلیم و تربیه شهید استاد رباني | ۳۰۹ | ۲۰۷ |
| ۲۱۵ | دیپارتمنت تامین برق پوهنځی الکترومیخانیک پوهنتون پولی تخنیک | ۳۱۹ | ۲۹۵ |
| ۲۱٦ | دیپارتمنت تجارت بازاریابي پوهنځی اقتصاد پوهنتون جوزجان | ۳۱۰ | ۲۸۴ |
| ۲۱۷ | دیپارتمنت تربیت بدني پوهنځی تعلیم و تربیه پوهنتون کندهار | ۲۹۸ | ۱۹۳ |
| ۲۱۸ | دیپارتمنت ترکمني پوهنځی تعلیم و تربیه پوهنتون جوزجان | ۲۹۱ | ۲۰۳ |
| ۲۱۹ | دیپارتمنت ترکي پوهنځی زبان و ادبیات پوهنتون تعلیم و تربیه شهید استاد رباني | ۳۳٦ | ۲۲۴ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۲۰ | دیپارتمنت ترکي پوهنځی زبان های خارجي پوهنتون کابل | ۳۱۱ | ۲۶۸ |
| ۲۲۱ | دیپارتمنت تعلیم و تربیه دوره کودکستانها علوم تربیتي ومسلکي تعلیم و تربیه شهید استاد رباني | ۳۰۴ | ۱۷۷ |
| ۲۲۲ | دیپارتمنت تعلیم و تربیه پوهنځی تعلیم و تربیه موسسات تحصیلات پنجشیر | ۲۸۲ | ۲۲۵ |
| ۲۲۳ | دیپارتمنت تعلیم و تربیه عمومي پوهنځی تعلیم و تربیه پوهنتون کندهار | ۳۱۰ | ۲۱۱ |
| ۲۲۴ | پوهنځی علوم تربیتي ومسلکي پوهنتون تعلیم وتربیه شهید استاد رباني | ۳۰۱ | ۲۲۷ |
| ۲۲۵ | دیپارتمنت تعلیمات اسلامي پوهنځی شرعیات تخار پوهنتون | ۳۰۳ | ۲۵۴ |
| ۲۲۶ | دیپارتمنت تعلیمات اسلامي پوهنځی شرعیات پوهنتون تخار | ۳۰۲ | ۲۴۴ |
| ۲۲۷ | دیپارتمنت تعلیمات اسلامي پوهنځی شرعیات پوهنتون تخار | ۳۲۴ | ۲۸۵ |
| ۲۲۸ | دیپارتمنت تعلیمات اسلامي پوهنځی شرعیات پوهنتون تخار | ۳۱۱ | ۲۴۲ |
| ۲۲۹ | دیپارتمنت تعلیمات اسلامي پوهنځی شرعیات موسسات تحصیلات عالی پنجشیر | ۲۹۱ | ۲۴۶ |
| ۲۳۰ | دیپارتمنت تفسیر و حدیث پوهنځی تعلیمات اسلامي تعلیم و تربیه شهید استاد رباني | ۲۹۰ | ۲۳۲ |
| ۲۳۱ | دیپارتمنت تکنالوژي معلوماتي پوهنځی کمپیوتر ساینس پوهنتون کابل | ۳۳۸ | ۳۰۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۳۲ | دیپارتمنت تکنالوژي لابراتوار پوهنځی متمم صحي طبي پوهنتون کابل | ۳۳۰ | ۲۹۹ |
| ۲۳۳ | دیپارتمنت تکنالکي مواد عضوي پوهنځی تکنالوژي کیمیاوي پوهنتون پولی تخنیك | ۳۰۱ | ۲۶۵ |
| ۲۳۴ | دیپارتمنت تکنالوژي مواد غیرعضوي پوهنځی تکنالوژي کیمیاوي پوهنتون پولی تخنیك | ۲۹۲ | ۲۴۷ |
| ۲۳۵ | دیپارتمنت تولید مواد غذایي پوهنځی تکنالوژي کیماوي پوهنتون جوزجان | ۲۹۳ | ۲۴۴ |
| ۲۳۶ | دیپارتمنت تولید مواد عضوي پوهنځی تکنالوژي کیمیاوي پوهنتون جوزجان | ۲۹۱ | ۲۴۹ |
| ۲۳۷ | دیپارتمنت تولید مواد غیرعضوي پوهنځی تکنالوژي کیمیاوي پوهنتون جوزجان | ۲۹۱ | ۲۳۴ |
| ۲۳۸ | دیپارتمنت تیاتر ۳۰ تن ذکور و ۲۰ تن اناث پوهنځی هنرهای زیبا پوهنتون کابل | ۲۹۱ | ۲۱۴ |
| ۲۳۹ | دیپارتمنت ثقافت اسلامي پوهنځی تعلیم و تربیه موسسات تحصیلات علی سمنگان | ۲۸۶ | ۲۰۹ |
| ۲۴۰ | دیپارتمنت ثقافت اسلامي پوهنځی تعلیم و تربیه موسسات تحصیلات عالي سمنگان | ۲۷۷ | ۱۷۶ |
| ۲۴۱ | دیپارتمنت ثقافت اسلامي پوهنځی شرعیات پوهنتون تخار | ۳۱۰ | ۲۳۱ |
| ۲۴۲ | دیپارتمنت جامعه شناسي پوهنځی علوم اجتماعي پوهنتون تعلیم و تربیه شهید استاد رباني | ۳۰۵ | ۲۵۹ |
| ۲۴۳ | دیپارتمنت جغرافیه پوهنځی تعلیم و تربیه | ۳۰۹ | ۲۰۵ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| | موسسات تحصیلات عالي سمنگان | | |
| ۲۴۴ | دیپارتمنت جغرافیه پوهنځی زمین شناسي پوهنتون کابل | ۲۹۳ | ۲۵۳ |
| ۲۴۵ | دیپارتمنت جغرافیه پوهنځی تعلیم و تربیه پوهنتون جوجان | ۳۱۰ | ۲۴۳ |
| ۲۴۶ | دیپارتمنت جغرافیه پوهنځی علوم اجتماعي پوهنتون تعلیم و تربیه شهید استاد رباني | ۲۸۰ | ۲۳۳ |
| ۲۴۷ | دیپارتمنت جغرافیه پوهنځی علوم اجتماعي پوهنتون هرات | ۳۲۲ | ۲۱۸ |
| ۲۴۸ | دیپارتمنت جغرافیه پوهنځی تعلیم و تربیه پوهنتون ننگرهار | ۲۸۱ | ۱۷۷ |
| ۲۴۹ | دیپارتمنت جنگلات و منابع طبیعي پوهنځی زراعت پوهنتون کابل | ۳۱۶ | ۲۴۸ |
| ۲۵۰ | دیپارتمنت جنگلات پوهنځی زراعت موسسات تحصیلات عالي سمنگان | ۲۸۳ | ۲۲۷ |
| ۲۵۱ | دیپارتمنت جیودیزي انجنیر پوهنځی ساختماني پوهنتون جوزجان | ۳۲۴ | ۳۰۰ |
| ۲۵۲ | دیپارتمنت جیودیزي پوهنځی جیولوجي و معادن پوهنتون جوزجان | ۳۰۴ | ۲۷۹ |
| ۲۵۳ | دیپارتمنت جیولوجي پوهنځی زمین شناسي پوهنتون کابل | ۳۱۴ | ۲۷۷ |
| ۲۵۴ | دیپارتمنت جیولوجي انجنیري و هایدروجیولوجي و معادن پوهنتون پولی تخنیک | ۳۰۵ | ۲۲۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۵۵ | دیپارتمنت جیولوجي پوهنځی انجنیري پوهنتون تخار | ۳۱۸ | ۲۲۴ |
| ۲۵۶ | دیپارتمنت جیولوجي و معادن پوهنځي ساینس پوهنتون ننگرهار | ۳۰۰ | ۱۸۱ |
| ۲۵۷ | دیپارتمنت حفاظه نباتات پوهنځی زراعت پوهنتون کابل | ۳۱۷ | ۲۶۲ |
| ۲۵۸ | دیپارتمنت چینایي پوهنځی زبان های خارجي پوهنتون کابل | ۳۰۱ | ۲۵۳ |
| ۲۵۹ | دیپارتمنت حقوق جزا پوهنځی حقوق پوهنتون جوزجان | ۳۳۴ | ۳۰۱ |
| ۲۶۰ | دیپارتمنت حقوق خصوص پوهنځي حقوق پوهنتون جوزجان | ۳۳۱ | ۲۹۶ |
| ۲۶۱ | دیپارتمنت حقوق عامه پوهنځی حقوق پوهنتون تخار | ۳۱۳ | ۲۸۵ |
| ۲۶۲ | دیپارتمنت خاک شناسي پوهنځی زراعت پوهنتون بلخ | ۳۱۰ | ۲۴۶ |
| ۲۶۳ | دیپارتمنت خاک شناسي پوهنځی زراعت پوهنتون بلخ | ۲۹۳ | ۲۴۱ |
| ۲۶۴ | دیپارتمنت دری پوهنځی تعلیم و تربیه پوهنتون تخار | ۲۹۲ | ۲۳۰ |
| ۲۶۵ | پوهنځی علوم تربیتي و مسلکي پوهنتون تعلیم و تربیه شهید استاد رباني | ۳۳۴ | ۲۸۵ |
| ۲۶۶ | دیپارتمنت دری پوهنځی زبان و ادبیات پوهنتون البیروني | ۲۹۸ | ۲۴۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۵۷ | ۲۹۲ | دیپارتمنت دری پوهنځی زبان و ادبیات پوهنتون البیروني | ۲۶۷ |
| ۲۵۵ | ۲۹۳ | دیپارتمنت دری پوهنځی ادبیات پوهنتون تخار | ۲۶۸ |
| ۲۱۹ | ۳۲۱ | دیپارتمنت صحت عامه پوهنځی طب نظامي پوهنتون طبي کابل | ۲۶۹ |
| ۲۹۰ | ۳۳۲ | دیپارتمنت شهرساز پوهنځی ساختماني پوهنتون پولی تخنیك | ۲۷۰ |
| ۲۲۰ | ۳۰۸ | دیپارتمنت عربي پوهنځی ادبیات پوهنتون بلخ | ۲۷۱ |
| ۱۷۸ | ۲۷۰ | دیپارتمنت عربي پوهنځی زبان و ادبیات پوهنتون البیروني | ۲۷۲ |
| ۲۴۹ | ۳۰۸ | دیپارتمنت عربي پوهنځی زبان های خارجي پوهنتون کابل | ۲۷۳ |
| ۱۹۳ | ۲۷۹ | دیپارتمنت عربي پوهنځی ادبیات پوهنتون ننگرهار | ۲۷۴ |
| ۲۳۱ | ۳۱۵ | دیپارتمنت عقیده پوهنځی شرعیات پوهنتون تخار | ۲۷۵ |
| ۲۲۷ | ۲۸۴ | دیپارتمنت عربي پوهنځی زبان و ادبیات پوهنتون تعلیم و تربیه شهید استاد رباني | ۲۷۶ |
| ۲۳۹ | ۳۰۹ | دیپارتمنت علوم اجتماعي پوهنځی تعلیم و تربیه تخار | ۲۷۷ |
| ۲۲۵ | ۲۸۷ | دیپارتمنت عقیده و فقه پوهنځی تعلیمات اسلامي پوهنتون تعلیم و تربیه شهید استاد ربانی | ۲۷۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۷۹ | دیپارتمنت علوم باغداري پوهنځی زراعت پوهنتون بلخ | ۳۱۸ | ۲۷۲ |
| ۲۸۰ | دیپارتمنت علوم حیواني پوهنځ زراعت پوهنتون بلخ | ۳۰۳ | ۲۳۸ |
| ۲۸۱ | دیپارتمنت علوم حیواني پوهنځی زراعت موسسات تحصیلات عالي پکتیا | ۲۸۷ | ۱۷۷ |
| ۲۸۲ | دیپارتمنت علوم حیواني پوهنځی زراعت پوهنتون کابل | ۲۷۷ | ۲۰۶ |
| ۲۸۳ | دیپارتمنت علوم نباتي پوهنځی زراعت پوهنتون بلخ | ۳۲۴ | ۲۸۹ |
| ۲۸۴ | دیپارتمنت فرانسوي پوهنځی زبان های خارجي پوهنتون کابل | ۳۱۸ | ۲۷۴ |
| ۲۸۵ | دیپارتمنت فزیك پوهنځی ساینس پوهنتون کابل | ۳۱۱ | ۲۶۷ |
| ۲۸۶ | دیپارتمنت فزیك پوهنځی علوم طبیعي پوهنتون تعلیم و تربیه شهید استاد رباني | ۲۸۵ | ۲۵۱ |
| ۲۸۷ | دیپارتمنت فقه وانون پوهنځی شرعیات پوهنتون بلخ | ۳۲۰ | ۲۸۸ |
| ۲۸۸ | دیپارتمنت فقه وقانون پوهنځی شرعیات پوهنتون البیروني | ۳۱۴ | ۲۷۵ |
| ۲۸۹ | دیپارتمنت فقه وقانون پوهنځی شرعیات پوهنتون ننګرهار | ۳۰۵ | ۲۶۷ |
| ۲۹۰ | دیپارتمنت فقه وقانون پوهنځی شرعیات پوهنتون تخار | ۲۹۳ | ۲۶۴ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۹۱ | دیپارتمنت فلسفه و جامعه شناسي پوهنځی علوم اجتماعي پوهنتون کابل | ۳۲۴ | ۲۷۸ |
| ۲۹۲ | دیپارتمنت فوتورافي پوهنځی هنرهای زیبا پوهنتون کابل | ۳۰۳ | ۲۱۲ |
| ۲۹۳ | دیپارتمنت قابلي پوهنځی نرسنګ پوهنتون طبي کابل | ۳۲۶ | ۲۹۱ |
| ۲۹۴ | دیپارتمنت فضا و خارنوالی پوهنځی حقوق پوهنتون تخار | ۳۱۳ | ۲۹۱ |
| ۲۹۵ | دیپارتمنت کمپیوتر انجینیرینګ پوهنځی کمپیوتر ساینس پوهنتون هرات | ۳۳۴ | ۲۹۷ |
| ۲۹۶ | دیپارتمنت کارګران اجتماعي پوهنځی روانشناسي و علوم تربیتي پوهنتون کابل | ۳۱۳ | ۲۹۱ |
| ۲۹۷ | دیپارتمنت کیمیا پوهنځی ساینس پوهنتون کابل | ۳۰۶ | ۲۶۱ |
| ۲۹۸ | دیپارتمنت کیمیا پوهنځی علوم طبیعي پوهنتون تعلیم و تربیه شهید استاد رباني | ۲۹۰ | ۲۳۵ |
| ۲۹۹ | دیپارتمنت مالي و بانک داري پوهنځی اقتصاد پوهنتون جوزجان | ۳۴۳ | ۲۹۷ |
| ۳۰۰ | دیپارتمنت ګرافیک پوهنځی هنرهای زیبا پوهنتون کابل | ۳۰۷ | ۲۷۷ |
| ۳۰۱ | دیپارتمنت مالی و بانک داری پوهنځی اقتصاد موسسات تحصیلات عالی سمنګان | ۳۱۹ | ۲۸۴ |
| ۳۰۲ | دیپارتمنت مجسمه پوهنځی هنرهای زیبا پوهنتون کابل | ۳۰۴ | ۲۲۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۳۰۳ | دیپارتمنت محیط زیست پوهنځی علوم طبیعي پوهنتون تعلیم و تربیه شهید استاد رباني | ۳۲۶ | ۲۰۷ |
| ۳۰۴ | دیپارتمنت محاسبه و منجمنت پوهنځی اقتصاد پوهنتون جوزجان | ۳۱۰ | ۲۹۲ |
| ۳۰۵ | دیپارتمنت محیط زیست پوهنځی محیط زیست پوهنتون کابل | ۳۲۴ | ۲۷۴ |
| ۳۰۶ | دیپارتمنت مدیریت اموزشي و تربیتي علوم تربیتي و مسلکي پوهنتون تعلیم و تربیه شهید استاد رباني | ۲۸۸ | ۲۰۷ |
| ۳۰۷ | دیپارتمنت مشاورو رهنمایي پوهنځی روانشناسي پوهنتون تعلیم و تربیه شهید استاد رباني | ۳۰۱ | ۲۳۰ |
| ۳۰۸ | دیپارتمنت مشاورو رهنمایي پوهنځی روانشناسي و علوم تربیتي پوهنتون کابل | ۲۹۰ | ۲۶۲ |
| ۳۰۹ | دیپارتمنت معالجوي پوهنځی طب نظامي پوهنتون طبي کابل | ۳۳۴ | ۳۲۶ |
| ۳۱۰ | دیپارتمنت منابع طبعي پوهنځی محیط زیست پوهنتون کابل | ۳۱۱ | ۲۶۳ |
| ۳۱۱ | دیپارتمنت مهندسي پوهنځی انجینیري پوهنتون کابل | ۳۲۱ | ۳۱۹ |
| ۳۱۲ | دیپارتمنت مهندسي پوهنځی ساختماني پوهنتون پولي تخنیك | ۳۳۸ | ۳۱۱ |
| ۳۱۳ | دیپارتمنت موسیقي پوهنځی هنرهای زیبا پوهنتون کابل | ۳۲۶ | ۲۲۳ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۳۱۴ | دیپارتمنت مواد غذایي پوهنځی تکنالوژي کیمیاوي پوهنتون پولی تخنیک | ۲۹۱ | ۲۴۹ |
| ۳۱۵ | دیپارتمنت میخانیک پوهنځی انجینیري پوهنتون کابل | ۳۲۸ | ۲۹۳ |
| ۳۱۶ | دیپارتمنت نرسنګ پوهنځی نرسنګ پوهنتون طبي کابل | ۳۱۵ | ۲۸۹ |
| ۳۱۷ | دیپارتمنت نفت وګاز پوهنځی جیولوجي و معادن پوهنتون پولی تخنیک | ۳۳۸ | ۲۷۷ |
| ۳۱۸ | دیپارتمنت نقاشي پوهنځ هنرهای زیبا پوهنتون کابل | ۳۰۶ | ۲۵۴ |
| ۳۱۹ | دیپارتمنت نمایشنامه پوهنځی هنرهای زیبا پوهنتون کابل | ۲۹۱ | ۲۳۲ |
| ۳۲۰ | دیپارتمنت هارتیکلچر پوهنځی زراعت پوهنتون تخار | ۲۸۷ | ۲۴۵ |
| ۳۲۱ | دیپارتمنت هایدروتخنیکي پوهنځی انجینیر پوهنتون بلخ | ۳۲۶ | ۲۹۰ |
| ۳۲۲ | دیپارتمنت هارتیکلچر پوهنځی زراعت پوهنتون کابل | ۳۰۸ | ۲۴۷ |
| ۳۲۳ | دیپارتمنت هایدرولیک پوهنځی ساختماني پوهنتون پولی تخنیک | ۳۲۹ | ۲۹۴ |
| ۳۲۴ | دیپارتمنت هایدرومترولوژي پوهنځی زمین شناسي پوهنتون کابل | ۳۱۳ | ۲۶۵ |
| ۳۲۵ | دیپارتمنت هسپانوي پوهنځی زبان های خارجي پوهنتون کابل | ۳۱۶ | ۲۳۸ |


(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څنګه کولای شو د کانکور د ازموینې نتیجه و ګورو؟**

تر ټولو دمخه خپل پرانیستونکی خلاص کړئ او په ادرس بار کې ورته د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت دغه ادرس (www.mohe.gov.af) ولیکئ، تاسي ته به په لاندې شکل یوه پاڼه خلاصه شي، په یاد و لرئ، چې پاڼه به په فارسي ژبه وي، خو که تاسي غواړئ نو په بره د فارسي پر ځای (پښتو) و ټاکئ، ژبه به پښتو ته بدله شي.



کله چې مو پاڼه په پښتو ژبه بدله کړه، نو په پورته برخه کې په کانکور باندې کلیک کړئ، تاسي ته به داسې یوه پاڼه خلاصه شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## کامیاب کانکور

په پورتنۍ خانه کې خپل اي ډي نمبر په دقت سره و لیکئ او په (لټون) کلیک کړئ، تاسې به خپله نتیجه تر لاسه کړئ، که چیرته مو اي ډي له ذهنه وتلی و او یا مو هېر کړی و، نو په همدې پاڼه کې لاندې (اي دی تان را فراموش کره اید؟) باندې کلیک و کړئ، درې خانې به تاسې ته خلاصې شي، یو کې خپل نوم، دویم کې د پلار نوم، دریم کې د نیکه نوم و لیکئ، په یاد ولرئ کوم نومونه چې لیکی باید هغه نمونه وي چې په کانکور کې مو د ثبت نام پر مهال لیکلي و او فاصلې پکې مراعت کړئ، بیا لټون کلیک کړئ، نو خپله نتیجه به تر لاسه کړئ.

**پاملرنه :**

۱:- په ټولو هغو موبایلونو کې چې د انټرنیت سهولت لري ، د کانکور پایله پکې کتلی شئ.

۲:-که چیرې د چا څخه خپله ای ډي نمبر هیر شوی وي نو په کوم نوم چې کانکور ازموینې ته ثبت نام (نوم لیکنه) کړي وي باید همغه نوم ورکړي د لږ ځنډ وروسته ستاسې نتیجه درته ښدې.البته د لیسې نوم په مرسته هم کولای شئ چه خپله نتیجه تر لاسه کړئ.

**توجه :** په ننګرهار ولایت کې د کانکور ازموزینه ددې میاشتی یعنی قوس په دریمه اونې کې اخیستل کیږي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**